


## د رهبرۍ پیغام

**خیرپالو هیوادوالو**! د افغاني سرې میاشتې ټولنه یوه خیریه، ملي او بشرپاله ټولنه ده چې د بشري او ټولنیزو ناخوالو د کمښت په برخه کې د دولت د مرستیال په توګه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د اوه ګونو اصولو په رڼا کې له بیلابیلو لارو خدمتونه وړاندې کوي.





د افغاني سرې میاشتې ټولنه د سره صلیب او سرې میاشتې د نړیوال غورځنګ د اوه ګونو اوصولو په رڼا کې د طبیعي او غیر طبیعي پیښو پیښځپلیو ته د خیرپاله هیوادوالو، سوداګرو او درنو حاجیانو او مما ثلو همکارو ملی ټولنو په مرسته په ټول هیواد کې بشرپاله خدمتونه وړاندې کوي.
ملي ټولنه د مرکزي روغتون، ګرځنده او ټاکلو کلینیکونو له لارې د هیواد په لرې پرتو نا امنه سیمو کې د ترټولو اړمنو وګړو لپاره روغتیایي خدمتونه وړاندې کوي. په پینځو مرستونونو کې سلګونه بې مشره کورنی تر ساتنې او روزنې لاندې لرې او همدارنګه د نړیوال سره صلیب او فیدراسیون په ملاتړ یې د رضاکارۍ او غړیتوب سیستم ته لا پراختیا ورکړې ده.

### پیښو ته د ځواب ورکوونې په برخه کې د ۲۰۲۰ کال د فبروري میاشتې برخمن شوي:

| ولایتونه | د کسانو شمیر | مرستندویه بنسټونه | مرسته شوي توکي |
|---|---|---|---|
| غزنی | ۱۴۰ | د سره صلیب نړیواله کمیټه | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| پکتیکا | ۳۰۰ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي توکي |
| پکتیا | ۳۶۳ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | خوراکي توکي |
| لغمان | ۳۳۶ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه او یونیسف | خوراکي او غیر خوراکي توکي |
| بدخشان | ۱۸۳۳ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه، یونیسف او د چین سور صلیب | خوراکي توکي |
| هلمند | ۲۸۳۵ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه او سور صلیب | غیر خوراکي توکي |
| ارزګان | ۷۸۴ | سور صلیب | غیر خوراکي توکي |
| نیمروز | ۷ | د افغاني سرې میاشتې ټولنه | غیر خوراکي توکي |
| **ټولټال** | ۶۵۹۸ تنه | | |

### د جسدونو د لیږد پروګرام:

د ۲۰۲۰ کال په فبروري میاشت کې په هیواد کې د ښکیلو اړخونو ۶۳ جسدونه خپلو کورنیو ته لیږدول شوي او سپارل شوي دي.

### د پلټنې او لارموندنې پروګرام:

د ۲۰۲۰ کال په فبروي میاشت کې، د بندیانو او هغوی د کورنیو ترمنځ (۸۰) پیغامونه راټول شوي او (۵۷) پیغامونه ویشل شوي دي.

مدیر مسوول: محب الله شیرزی
د اړیکې شمیره: ۰۷۲۸۹۰۰۰۳۷
ګرافیک ډیزاینر: سمسور فخری
ویب پاڼه: www.redcrescent.af
برېښنالیک: dis@redcrescent.af
فیسبوک: Afghan Red Crescent Society
افغانستان، کابل، پنځمه ناحیه، افشارسیلو، د افغاني سرې میاشتې ټولنې مرکزي دفتر

## ځوانان او رضاکاران

د ملي ټولنې د ځوانانو او رضاکارانو په ۳۳ کلو پو نو کې ۷۰۰۰ زده کوونکي په وړيا توګه د رضاکاره ښوونکو له لوري د انګليسي، کمپيوتر او ښوونځي په نورو درسونو بوخت دي، ۴۱۰ تنه نوي غړي جذب شوي او په لسو ټيمونو کې ۲۸۰ تنه ورزشکاران په بيلابيلو ورزشي لوبو بوخت دي.

## مرستونونه

د افغاني سرې مياشتې ټولنه په پينځه ګونو مرستونونو (کابل، قندهار، هرات، بلخ او ننګرها) کې ۸۲۵ تنه مشمولين (کونډې، يتمان او رواني ناروغان) تر پالنې او روزنې لاندې لري، چې ۳۲۲ تنه يې رواني ناروغان دي.

## د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول

د افغاني سرې مياشتې ټولنې روغتيايي خدمتونه ددې لپاره د اهميت وړ دي چې په کليو او بانډو کې د ليرې پرتو سيمو خلک تر خپل پوښښ لاندې راولي، له دې امله په ليرې پرتو سيمو کې د روغتيايي خدمتونو وړاندې کول، خلکو ته ستر حياتي ارزښت لري

| | |
|---|---|
| له ٤٦ ثابتو کلينيکونو څخه | ۱۴۴۴۴۸ کسان: برخمن شوي |
| له ۳۴ ګرځنده کلينيکونو څخه | ۴۴۰۲۸ کسان: برخمن شوي |
| د روغتيايي پوهاوي پروګرام څخه | ۴۶۴۲۸ کسان: برخمن شوي |
| د زړه سوري د درملنې پروګرام څخه | ۲۰۷ کسان: برخمن شوي |
| د لمړنيو مرستو پروګرام څخه | ۱۳۴۴۸ کسان : برخمن شوي |
| د اچ آی وي پروژه | ۱۵۲۹ کسان: برخمن شوي |
| له ۲۱ فرعی کلينيکونو څخه | ۳۵۲۳۳ کسان:برخمن شوي |
| د پوليو له پروګرام څخه: | ۶۵۸۶ کسان: برخمن شوي |
| له مرکزي روغتون څخه | ۱۱۴۵۳ کسان: برخمن شوي |
| د اپيل پروژې له ۵ سيارو ټيمونو څخه | ۶۲۲۲ کسان: برخمن شوي |
| د يوه جامع روغتيايي مرکز له لارې | ۸۲۷۲ کسان: برخمن شوي |
| **ټولټال** | **۳۱۷۸۵۴ کسان** |









مدير مسوول: محب الله شيرزی
د اړيکې شميره:۰۷۲۸۹۰۰۰۳۷
ګرافيک ډيزانير: سمسور فخری
وبسايت: www.redcrescent.af
ايميل: dis@redcrescent.af
فيسبوک: Afghan Red Crescent Society
افغانستان، کابل، ناحيه پنجم، افشارسيلو، دفتر مرکزی جمعيت هلال احمر افغانی